د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه


# لوګر

Logar

میاشتنی خپرونه

د تا سیس کال: ۱۳۸۳هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

دوشنبه د۱۳۹۷ کال دسلواغې د میاشتې لومړۍ، د ۲۰۱۹ عیسوي کال دجنورې یوویشتمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۱۰۰) لومړی کال، نهمه ګڼه


ای مؤمنانو کله چې د الله(ج) په لار کې دجهاد لپاره ووځئ، نو ښه پلټنه وکړئ ( د دوست او دښمن په منځ کې توپیر وکړئ) او څوک چې تاسې ته سلام واچوي، هغه ته سمدلاسه مه وایاست چې ته مؤمن نه یي، که تاسې د دنیا مال او ګټه غواړئ، نو الله (ج) سره ستاسې لپاره د ولجې (غنیمتونو) ډیرې زیاتې شتمنۍ شته. په همدې تاسو هم واست. بیا الله پر تاسې مهربانه شو، له همدې امله له غور څخه کار واخلئ تاسې چې څه کوئ الله پرې خبر دی.

( دالنساء سوره ۹۴ آیت)

## سرلیکنه ...

## لوګر ولس خپل ولایت ته د چارواکو پامرنه غواړي

**لوګر دافغانستان له مرکزي ولایتونو څخه یوستراتیژیک اومهم ولایت دی، چې په لوړه کچه دکانونو سترکان پکې شتون لري، که دکرنې له پلوه ورته نظر وکړو، نو دکابل کندو یې هم بللی شواو که دجهاد اوفرهنګ له ډګره یې ونیسو؛ نو دباب الجهاد او دفرهنګي ستورو ولایت هم بلل کیږي .**

**خوداچې لوګر ولایت ته حکومتي چارواکي ځانګړي پاملرنه نده کړې او یا یې نه کوي، ستونزه دلته ده، چې دغه ولایت به نورهم دشاه تګ په لوري مخه کړي .**

**لوګر ولایت دسیاست له ډګره هم بې برخې ندی پاتې شوی، په هرنظام کې ډیري سیاسیون او حکومتي لوړپوړي چارواکي لرلي دي او اوس هم په شته نظام کې په لوړو څوکیو دندې مخته وړي.**

**ولې داچې دوی دسیاست په بیړۍ کې ناست دي؛ باید لوګر او دنوموړي ولایت ولسونو لوري ته یې پام واوړي او دخپل دردیدلي ولسونو په ټپونو دملهم پټۍ کیږدي، څو ددې خوار ولس لپاره څنګه چې لیدل کیږي، په هماغه اندازه د دردونو لپاره یې درمل وګرځي.**

**څکه لوګر دجغرافیایي نقطې له مخې؛ الله تعالی په لوګري ولس دالورینه کړې، چې دلوګر په ټاټوبي باندې لوړ اوهسک غرونه، ښکلي او دنګ دنګ چنارونه، شنې او زرغونې باغچې، روان او څپاندسیند، دنړۍ په کچه دویم درجه دمسولرغونی کان، دقیمتي ډبرو ذیرمې او نورنعمتونه پکې شته، خو لوګري ولس دخوند څکه یې لا هم په هغه اندازه نه دی کړې، چې د دوی ژوند پرې ښه شوي وي.**

**که زموږچارواکي دخپل ولایت دحق غوښتنې دعوا نشي کولای، نو دډیري لوګري وګړو حقونه ترپښو لاندې کیږي او په دې لار کې دلوګر دولتي چارواکي او ولسونه دواړه مسؤل دي، چې ولس خپل غږ پورته کړي او دخپل حق غوښتونکي شي، څو لوګري چارواکي هم دمرکزي حکومت نه دحق غوښتو په لټه کې وواسئ.**

**ولس که هرڅومره دخپل حق غوښتنه وکړي، خو چې دلوګر چارواکي یې ملاتړي ونه اوسي؛ هیڅکله به خپل حق ترلاسه نه کړي.**

**لوګر ولایت ته چې له پلازمینې هر لوړپوړي چارواکي راغلي، خو دژمنو ورکولو پرته؛ دعمل جامه یې تر هغه کچې ندې ورآغوستي، چې لوګري وګړو ته دقناعت وړ او ورڅخه راضي وواسي.**

**په ټول افغانستان او په تیره بیا لوګر ولایت کې د ډیرو ستونزو او ناخوالو ترڅنګ یوه ستره ننګونه ناامنیي ده ، چې دولتي لوړ پوړي چارواکي ورته بایدځانګړي پاملرنه وکړي.**

**دلوګرولایت دحق غوښتنې تر ټولو ستره بیلګه یاد ولایت لومړۍ یا دویمې درجې ته ارتقاء ورکول، دا هغه څه دي، چې دلوګر ولسونو حقونه پکې خوندي کیدای شي، څو په پرمختیایي او ټولنیزو برخو کې لوګري بې وزګاره وګړي او ځوانان په کار وګمارل شي او حکومتي چارې په لوګر کې ګړندیتوب پیدا کړي.**

**نو ښه داده، چې د ولس په ملاتړ دلوګرچارواکي اوسیاسیون په یوه خوله غږ پورته کړي، چې نور لوګري ولس دخپل حق غوښتونکي دي او نه غواړي، چې د دوی په حق کې ظلم او بې عدالتي وشي.څو په هرډګر کې لوګري بې وزګاره وګړو ته دکارکولو ښه زمینه برابره شي او هم به ځوانان بهرنیو هیوادونو ته دتللو څخه راوګرزي اوپه دې سره به دکاردبسیاینې لپاره دلوګر ولس په چوپړ کې غښتلي ګامونه واخلي.**

**له یوې لوري به زموږ بې وزګاره ځوانان په کار وګمارل شي،له بل لوري به لوګر داقتصاد له پلوه نور هم غني او دپرمتګ په لوري خوځښت پیدا کړي.**

**تربیا دخدای پامان**

**مدیر**

## لوګر پوهنتون؛ دویمه دوره فارغین ټولنې ته وړاندې کړل

دلوګر پوهنتون دښووني او روزنې پوهنځۍ څخه ۲۷ تنه زده کړیالان چې ۹ تنه یې نجونې وې، په داسې حال کې فارغ شول، چې ډیري یې په هیواد کې دکار دنشوالي له امله انګیري.

دمرغومي په ۱۲ مه دفارغ شویو زده کړیالانو دفراغت جشن د پل علم ښاروالۍ په تالار کې دیوې غونډې په ترخ کې ولمانځل شو. په دې جشنیزه غونډه کې دلوګر والي الحاج محمد انورخان اسحاقزي په ګډون؛ دولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي، دلوګر پوهنتون رییس عبدالناصر ستانکزي، داطلاعاتو اوفرهنګ رییس محمد شفیق پوپل، امنیه قومندان، ملي امنیت رییس، دولایتي شورا غړو، فارغ شویو زده کړیالانو، د دوی دکورنۍ غړو، ځوانانو او قومي مشرانو ګډون کړی ؤ.

په پیل کې لوګر والي الحاج محمد انورخان اسحاقزي وینا وکړه او فارغ شو زده کړیالانو ته یې مبارکي وویله. ده له فارغ شویو زده کړیالانو غوښتنه وکړه، چې خپلې زده کړې دماسترۍ او دوکتورا ترکچې لوړې او په دې لاره کې خپلو هڅو ته ګړندیتوب ورکړي. والي زیاته کړه، چې د ښوونیزو مرکزونو دکمیت ترڅنګ باید دښوونیز کیفیت اصل ته هم جدي پاملرنه وشي.

والي ژمنه ورکړه، چې راتلونکي ۱۳۹۸ کال کې به دلوګر پوهنتون ته غزیدلي لار په پاخه او اساسي ډول ورغول شي.

دښوونې او روزنې پوهنځي رییس پوهنمل محمد سرورحق پرست وویل، چې دنوموړې پوهنځۍ څخه دا دویمه دوره فارغین دي، چې ټولنې ته وړاندې کیږي.

حق پرست زیاته کړه، چې په دې دوره کې ۷۲ تنه زده کړیالان ، چې ۹ تنه یې نجونې دي، دڅلورکلونو زده کړواخیستو دښوونې او روزنې پوهنځۍ د فزیک، کیمیا ، بیولوژي او ریاضي څانګو نه فارغ او نن یې د فراغت دجشن لمانځلو شاهدان یو.

پوهنیار عبدالناصر ستانکزي دخپلو خبرو په لړ کې فارغو زده کړیالانو ته د مبارکي ورکولو ترڅنګ یادونه وکړه، چې پوهنتون له هغو اساسي مرکزونو څخه ګڼل کیږي، چې د ټولنیز، اقتصادي او سیاسي نظامونو په پرمختګونو او بریالیتوبونو کې رغنده رول لوبولای شي.

ستانکزي وویل، چې راتلونکي کال کې به دکرنې پوهنځۍ هم دلوګر پوهنتون په تدریسي برخه کې شامله او جوړه شي او همدارنګه د پوهنتون او دکتابتون د احاطوي دیوال درغولو خبر یې هم ورکړ.

د ښوونې او روزنې پوهنځۍ څخه یوتن فارغ شوي زده کړیال ذکریا فقیرزاده دلوګر پوهنتون له استادانو او مشرتابه پلاوي نه دمننې ترڅنګ وویل، چې دعلم او زده کړې ترلاسه کول دټولنې دهر نسل لپاره اړین او لومړیتوب ګڼل کیږي.

فقیرزاده زیاته کړه، چې دولت د فارغ شو زده کړیالانو لپاره دکارموندنې په برخه کې غښتلي ګامونه واخلي. دیادونې وړ ده، چې دلوګرپوهنتون څخه په لومړۍ دوره کې ۵۹ تنه دښوونې او روزنې پوهنځۍ څخه فارغ شول، ولې تر دې مهال لاهم ډیري فارغین دبې وزګارۍ څخه سر ټکوي.

**امیني**



## از هفته ملی قانون اساسی درلوگر تجلیل به عمل آمد

ازهفته ملی قانون اساسی درولایت لوگرتجلیل بعمل آمد ، گردهمایی که بدین مناسبت درتالارپوهنتون لوگربه تاریخ 18 جدی تدویریافته بود ، درآن پوهنیار عبدالناصر ستانکزی رئیس پوهنتون لوگر ، محمد شفیق پوپل رئیس اطلاعات وفرهنگ ،استادان، محصلین و برخی ازمسئولین اشتراک ورزیده بودند.



پوهنیار عبدالناصر ستانکزی رئیس پوهنتون لوگر گفت که قانون اساسی برای اتباع افغانستان بوده که در آن تمام حقوق مردم افغانستان محفوظ می باشد ،وی علاوه کرد که قانون اساسی کلی ترین قانون است که با درنظرداشت فرهنگ وشرایط کشورساخته شده است.

محمد شفیق پوپل رئیس اطلاعات وفرهنگ لوگردرجریان صحبت هایش گفت که قانون اساسی سرخط نظام است ورعایت آن وجیبه ملی ووطنی می باشد ،آقای پوپل افزود که عدم آگاهی ازقانون جرم است وباید هرفرد کشورخودرا ازقوانین نافذه کشورآگاه سازند تا مطابق به قوانین رفتارنمایند.

پوهنیار استاد عبدالعزیز ثابت پیرامون تطبیق قانون اساسی صحبت کرد و گفت که درقوانین مشکلات نیست اما درتطبیق آنها مشکل وجود دارد. وی افزود که قانون اساسی افغانستان ازلحاظ مشروعیت یک جامع قانون است و نسبت به قانون اساسی عربستان، مصر وبرخی کشورهای دیگر اسلامی برتریت دارد.

قانون اساسی کشور دارای یکصدوشصت دو ماده در دوازده فصل میباشد که در سال 1382 هجری شمسی توسط حامد کرزی ریس جمهورپیشین کشور توشیح ونافذ شد.

**محمدزاهدسلطانی**

## یک باب مسجد جامع ویک سالون فاتحه خوانی ساخته میشود

به هزینه پنجاه میلیون افغانی کار ساخت یک باب مسجد جامع ویک سالون فاتحه خوانی توسط الحاج محمدانورخان اسحاقزی والی لوگر، حسیب الله ستانکزی رئیس شورای ولایتی، بریدجنرال امیرجان ناصری رئیس امنیت ملی، نصیراحمد لیلیزی شاروال پل علم، اعضای شورای ولایتی وبزرگان قومی به تاریخ 18 جدی درمرکز لوگر آغازشد.

نصیر احمد لیلیزی شاروال پل علم گفت:این مسجد جامع (عیدگاه) که گنجایش بیش از دوهزار تن نمازگزار ونیز سالون فاتحه خوانی که ظرفیت یک هزار تن را دریک وقت دارامیباشد دریک منزل به شکل پخته واساسی از بودجه انکشافی شاروالی در مساحت ۵جریب زمین در مدت شش ماه در شهر پل علم ساخته میشود .

همچنان الحاج محمدانور خان اسحاقزی والی لوگر نیز در سخنانش گفت:خیلی ها جای افتخار و خورسندی است که کار ساخت یک مکان مقدس را آغاز مینمایم که با تکمیل شدن آن مشکل نبود عید گاه بزرگ حل خواهد شد.



والی لوگر علاوه کرد که وی سعی وتلاش مینماید تا کارهای ساختمانی این مکان مقدس به شکل منظم مطابق به قرارداد به پیش رود. **محمدزاهدسلطانی**

**دولت دعلم، فرهنګ او هنر دپرمختګ لپاره اغیزمن پروګرامونه طرح کوي. دولت دمؤلف، مخترع او کاشف حقوق تضمینوي او په ټولو برخو کې علمي څېړنې هڅوي او ملاتړ یې کوي او دهغو له نتیجو څخه داغیزمنې ګټې اخیستل دقانون له حکمونو سره سم عاموي.** (داساسي قانون، اوه څلویښتمه ماده)